انجنیر سلطان جان کلیوال

۲۰۱۷/۰۴/۰۶

# زه څومره لوی وم



زه چې پیدا شومه له موره په دی نه پوهیدم

چې زه پښتون که هزاره او که تاجک به یمه

زه په دی نه پوهیدم

چې مې ټبر کوم دی، نصب مې کوم دی؟؟

په دی هم نه پوهیدم

چې دین مې کوم دی او مذهب مې کوم دی؟؟

زه په دی نه پوهیدم

چې زه هندو که مسلمان به یمه؟

چې زه یهود که نصارا به یمه؟

** * **

په دی هم نه وم خبر

چې زما رنګ به څه وی؟

تور به وی، زیړ به وی، که سپین به وی؟

سور به وی، خړ به وی، که شین به وی؟



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

په دی هم نه وم خبر

چې د یورپ، که د ایشیا به یم

د افریقا، که امریکا به یم

چې د شمال که د جنوب به یمه

چې مغربی که مشرقی به یمه

** * **

فکر کوم چې تش په دی پوهیدم

که وړی کیږی نو ژړا به کوی

مور به دی خوله کې در ته «تی» درکړی

شیدی به در کړی

درته به و وایي للو للو

ویده به دی کړی

که له خوب ویش شوی

بیا به هم ژاړی

شیدي به غواړی

** * **

زه چې وړوکی وم

ډیر لوی ومه، انسان ومه

ټوله دنیا وه زما کور

او زه بی کوره نه وم

خو چې را لوی شومه

زلمی شومه ، سړی شومه

شومه وړوکی په کوچنیو جزیرو کی بند شوم

لکه مرغۍ ډیرو کوچنیو قفسو کی بند شوم

ډیري کړی رانه چاپیره شوی دایرو کی بند شوم

** * **

که د مذهب له جزیری نه به را و وتلم

نو د توکم په زولنو کی به می خپی بندی شوي

که د پوټکی له کړۍ نه به می ځان خلاص کړو

نو به د ژبی د توپیر لومه کی و نښتم

ورسره سم به می سینه کی

زړه ټکان و خوړه

او د مغزو په سمندر کی

به توفان راغی

زه به رنځور جوړشوم

** * **

د انتقام او د حسد ناروغۍ

می دا د غوښو او هډوکو وجود

د اور و جود جوړ که

بیا نو زه هم د شیطان ورور شومه

اوس د شیطان په لمسه

په هر انسان باندی ګزار کوم

په دی بی پامه ګزارو باندی می

د انسانیت او محبت دنیا ګی

ټوټي ټوټي او دړي وړي کړله

** * **

چی می برباد کړه دا د مینی دنیا

نو می په دواړو لاسو

کړه ور تسلیم د اور او کرکي پلار ته

اوس نو کری د همدی پلار

یعنی شیطان کومه

او د انسان جامه کی

یمه لګیا انسان ته اور اچوم

څومره وړوکی شوم چی لوی شوم ربه!!!

زه څومره لوی وم چی وړوکی ومه.

---

مارچ/۳/۲۰۱۷

تورنتو ـ کانادا